مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه‌ولی ارین

۲۰۲۶/۰۱/۱۶

# په ایران کې د حاکم نظام د پرزونې هڅې

## د ترمپ ګوتڅنډنې

ټولو ته جوته ده کلونه کېږي چې امریکا او اروپايي هېوادونه پر ایران په بیلا- بیلو برخو کې تعزیرات او بندیزونه لګولي دي چې یو لامل یې د ایران له لورې د زروي وسلو د جوړولو مخنیوي او د یورانیمو د غني کولو د چارو بندول دي.

د دې تر څنګ امریکا، غربیان او په خاص ډول اسرائیل هلې ځلې کوي چې د ایران موجود نظام چپه کړي او پر ځای یې د دوي د خوښې یو مزدور او ګوډاګی حاکمیت د ایران په ولس وتپي.

پر ایران د اسرائیلو او امریکا د تېر کال جګړه هم د دغو موخو له پاره تر سره شوه، دوي فکر کاوه، چې د دوي دغه جګړه به د ایران حاکمیت په دوه درې ورځو کې را چپه کوي او پر ځای به یې د رضا شاه پهلوي ځوی قدرت ته رسوي، اما دوي د ایران له نظامي ځواک نه پوره معلومات او سمه محاسبه نه درلوده، نو ځکه هغه هدف ته ونه رسیدل.

د دغې جګړې له ختمیدو سره د رضاشاه پهلوی ځوی هم په میډیا کې راښکاره شو ګېلې او ناندرې یې پیل کړې چې ورسره غربیانو، اسرائیل او امریکا ناځواني وکړه قدرت یې ورته انتقال نه کړ.

د ۲۰۲۵ کال د دسمبر میاشت په ۲۸ مه نیټه لومړی په تهران او مشهد کې د اقتصادي وضعیت د خرابېدو، د بیو د لوړوالي او د ایراني ریال د ارزښت د بې مخینې راټیټېدو په غبرګون کې ولسي اعتراضونه پیل شول. ولیدل شوول چې ډېر ژر د دغو اعتراضونو بڼه بدله شوه او د نظام پر ضد په شعارونو او ناوتریخوالي واوښته او د ایران ټولو ۳۱ولایتونو ته وغځیده.

دغو عمومي ولسي پاڅونونو او مظاهرو، غربیان، اسرائیل او امریکا ته بیا امیدونه ورکړل، چې دا دی د نظام د چپه کیدو شرائط برابر شوي، تبلیغاتي جګړه هم د امریکا او اسرائیلو له لورې زور واخیست.ترامپ په ښکاره پرمعترضانو غږ وکړ چې:

«موږ او زموږ کومکونه درسره دي تظاهراتو ته دوام ورکړي، دولتي مؤسسات او ارګانونه ونیسئ»

ایراني مقامات هم تاکید کوي چې د تاوتریخوالي په رابطه د ایران د بیروني دښمنانو لاس دي، چې دا خبره له امکاناتو لرې هم نه ده. د تېرې اونۍ د راپورونو له مخې په ایران کې د پولیسو له خوا معترضو سره په روان تاوتریخوالي کې تر ۲۵۰ زیات لاریونوال وژل شوي او سلګونه نور ټپیان شوي دي.

د یوبل راپور له مخې فعالانو ویلي دي چې په ایران کې د ټول هیواد په سطحه د اعتراضونو د ځپلو په نتیجه کې د وژل شوو کسانو شمیر په شدت سره ډېر شوی او ۵۴۴ تنو رسیدلی دی.
په ورستیو کې لاریون کونکو په ورانکاریو، سوزولو ویجاړولو د وسلو د استعمال د پولیسو او امنیتي ځواکونو په وژلو پیل وکړاو لاریونونه په جدي تاوتریخوالي واوښتل.

د دغو تاوتریخوالو وروسته د ایران ستر مذهبي مشر، ایت الله علي خامنه یي په خپلو تازه څرګندونو کې وویل:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

«لاريون کوونکي بغاوتګر او اوباش دي نو ځکه نظام به د دوی په وړاندې شا ته نشي.نوموړي دغه ناارامي د امریکا او اسرائیلو پلان شوې توطیه وبلله او ادعا یې وکړه چې بهرني دښمنان غواړي ایران بې ثباته کړي.»

په ایران کې د حکومت ضد اعتراضونو او تاوتریخوالي په رابطه آیت الله علي خامنه‌اي سپاه پاسدارانو ته د معترضو د ځپلو بشپړ واک ورکړی دی. مذهبي مشر آيت الله علي خامنه اي سپاه پاسداران ته ويلي چې:

«د چمتووالي کچه اسراییل سره تر ۱۲ ورځنۍ جګړې هم لوړه کړي.»

سربېره پر دې، د امنيتي ځواکونو ځيني مامورين چې د معترضانو پر وړاندې يې له ډزو ډډه کړې وه، پېژندل شوي او نيول شوي دي.

معلومات وايي چې ايراني چارواکو د پنجشنبې راهيسې انټرنيټ پرې کړی، چې د ايران دننه يې د معلوماتو ترلاسه کول هم ستونزمن کړي، خو ځيني راپورونه وايي چې معترضان ستارلينک سره وصل دي.

له بله پلوه سپاه پاسداران خبرداری ورکړی چې د اعتراضونو دوام د منلو وړ نه دی او د وروستيو پېښو پړه به د طراحانو پر غاړه وي.

دغه وضعيت په داسې حال کې دی چې امريکا د ايران د معترضانو پر وړاندې د تاوتريخوالي په صورت کې د سخت غبرګون خبرداری ورکړی دی.

په ایران کې اعتراضونه چې حکومت يې ننګولی دی، د دغه هیواد د مذهبي حاکمانو له خوا پر ځپلو سربیره ادامه لري. په عين حال کې د ایران حکومت د دوشنبې د ورځې له پاره "د ملي مقاومت لاريون" اعلان کړی دی.

په امريکا متحده ايالاتو کې د بشري حقونو د فعالانو خبري آژانس (هرانا) اعلان وکړ چې تر ۱۰ زرو ډېر کسان نيول سوي دي دغې ډلې ويلي دي چې په وروستيو اعتراضونو کې، ۴۹۶ اعتراض کوونکي او د امنيتي ځواکونو ۴۸ غړي وژل سوي دي. هرانا ويلي دي چې امکان لري د تلفاتو شمير نور هم زيات شي.

فرانسي ولسمشر، ايمانويل مکرون په ايران کې د معترضو پر وړاندې تاوتريخوالی سخت غندلی دی.
د بشري حقونو د څار سازمان د تازه راپور له مخې په تېرو دوو اونيو کې د تاوتريخوالي له امله د وژل شوو کسانو شمېر ۵۳۸ کسانو ته رسيدلی، چې په کې لږ تر لږه ۵۰ ماشومان هم شامل دي دغه راز تر ۱۰۶۰۰ تنو زيات کسان د امنيتي ځواکونو له لوري نيول شوي دي.

د فاکس نيوز د خبر له مخې ۲۶ کلن عرفان سلطاني، چې تېره اونۍ په "کرج" کې نيول شوی و، تمه ده چې سبا د چهارشنبې په ورځ (د جنوري ۱۴مه) په دار وځړول شي.

ايراني چارواکو سلطاني پر "محاربې" يا د اسلامي نظام پر وړاندې پر جګړې تورن کړی دی. د بشري حقونو سازمانونو په وينا، د عرفان سلطاني کورنۍ ته ويل شوي چې د هغه د اعدام حکم صادر شوی او ډېر ژر به عملي شي.

ويل کېږي چې هغه ته د وکيل نيولو اجازه نه ده ورکړل شوې او محاکمه يې په داسې حال کې شوې چې په ايران کې انټرنيټي بنديزونه لګول شوي دي.

بلخوا، د امريکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ تهران ته سخت خبرداری ورکړی او ويلي يې دي: "هغوی بايد ډزې ونه کړي، ځکه که هغوی پيل وکړ، موږ به هم ډزې پيل کړو." سپينې ماڼۍ تاييد کړې چې ټرمپ پر ايران د بمباری په انتخابونو غور کوي، خو ډيپلوماسي يې لومړيتوب دی.

د امريکا متحده ايالاتو ولسمشر ، ډونالډ ترمپ خبريالانو ته وويل چې:

«ایران غواړي مذاکره وکړي او زیاته یې کړه چې د اسلامي جمهوریت له رهبر سره لیدنه کتنه د تنظیم کیدو په حال کې ده، هغه زیاته کړه، واشنګټن په ایران کې د روانو اعتراضونو او د اعتراض کوونکو په وړاندې تاوتریخوالي له امله، امکان لري مجبور شي چې مخکې له لیدنې کتنې څخه اقدام وکړي»

د اروپايي ټولنې لوړپوړې ډيپلومات، کايا کالاس وويل چې:

«د اعتراض کوونکو د وحشيانه ځپلو په دليل به د ايران په وړاندې د لا ډيرو بنديزونو وړانديز وکړي.»



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

وروستي راپورونه څرګندوي، سره له دې چې دونالډ ترمپ په ښکاره توګه د معترضانو تر شاه ولاړ او د تاوتريخوالي له پاره يې تشويقوي، مګر بيا هم د ايران د امنيتي ځواکونو او سپا ی پاسداران له لورې معترضان تر کنترول لاندې دي او د مظاهره کونکو شمېر مخ په کميدو دی په مقابل کې يې په ميليونونو کسانو د لاريون په طرز کې له حکومت او نظام نه خپل ملاتړ اعلان کړي او د معترضانو او د هغوي د ملاتړو پر ضد يې شعارونه ورکړي دي. زما په اند د ايران د اوسنی حاکميت ژر سقوط له امکان نه لری موضوع بهښکاريو خو بيا هم که بدلون راشي دغه وضعيت به هرو مرو پرګاونډي هېوادو افغانستان او پاکستان منفي اغيزې ولري ، د مهاجرت موضوع به بله ستونزه هم وي.

پای



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ